# ليونى



ليكوال: جبران خليل جبران

ژبــارن : عبدالحميد عثماني

د جـبران پـه لیکنـو پوهېدنـه، ژور فکـر او پراخـه چـورت وهنـه غـواړي. کـه د اندنـې او سـوچ وخـت و زغـم نـه لـرئ نـو جـبران مـه لولـئ.

— بهیج

بسم الله الرحمن الرحيم

© د چاپي، برېښنايي او بل
هر ډول خپراوي ټولې رښتې
له ژباړن سره خوندي دي

# ليونی

ليكوال: جبران خليل جبران
ژباړن: عبدالحميد عثماني بهيج

BAHIJ

۱۳۹۲ل

دا کتابگوټی له دې کتاب څخه ژباړل شوی دی:

**THE MADMAN**

HIS PARABLES AND POEMS

NewYork, Alfred A. Knopf, MCMXVIII

Published September, 1918

په کتاب کې درې واړه انځورونه د اصلي انځورونو له مخې په خپله جبران خلیل جبران بیا پنځولي دي.


**کتاب‌ځانګړنې**

کتاب‌نوم: لېونی

لیکوال: جبران خلیل جبران

ژباړن: عبدالحمید عثماني‌بهیج

خپرندوی: بهیج مجازي اکاډیمي (BVA)

انځورګر: جبران خلیل جبران

چاپ‌کال: ۱۱/ ۱۱/ ۱۳۹۲ل


https://www.facebook.com/BahijVirtualAcademy

# نیولیک


ښنگه لېونی شوم؟........................................ ۱
خدای.................................................. ۳
ملګریه!................................................ ۵
ښمغېلی................................................ ۸
خوب ګرځي.............................................. ۹
ویښیار سپی.............................................. ۱۰
دوه زاهدان.............................................. ۱۱
غوښتونکی، موندونکی دی ................................ ۱۳
اووه‌نفسونه.............................................. ۱۴
جګړه.................................................. ۱۷
ګیدړ................................................... ۲۰
ویښیار پاچا.............................................. ۲۱
هیله................................................... ۲۳
نوی خوند .............................................. ۲۵
بله‌ژبه.................................................. ۲۶
انار.................................................... ۲۸
دوه کپسونه.............................................. ۳۰
درې مېړیان.............................................. ۳۱
کېڅکن................................................. ۳۳
د مزدک په پوړیو کې..................................... ۳۴

سپېڅلی ښار.......................................................... ۳۵
د ښو او بدو خدايان.................................................... ۳۸
نابری................................................................... ۳۹
شپه او لېونی........................................................... ۴۱
مخونه.................................................................. ۴۵
ستر سيند.............................................................. ۴۶
سر په دار.............................................................. ۴۹
ستورپوه............................................................... ۵۱
ستره هيله.............................................................. ۵۲
يوه واښه ووې.......................................................... ۵۴
سترگه.................................................................. ۵۵
دوه پوهان.............................................................. ۵۶
کله مې چې وير وزېږېد.............................................. ۵۷
کله مې چې خوښي وزېږېده........................................... ۵۹
بشپړه نړی............................................................. ۶۰

"The Madman" یا لېونی، په انگرېزي ژبه د جبران خلیل جبران لومړنی کتاب دی چې په ۱۹۱۸ز کې یې خپور کړ. روسته بیا په چټکۍ سره پرانسي، ایټالوي، الماني، اسپانوي، یوناني او بیا د "المجنون" تر نامه لاندې عربي ژبې ته وژباړل شو او لیکوال ته یې نړیوال نوم وگاټه.

د کتاب اتل په رښتیا لېونی نه دی، بلکه یو هېښتیاوړ څوک دی چې د بنیادم په اړه یې اندونه او سوچونه د نورو له لیدلوریو او الواکونو سره ځمکه او اسمان توپیر لري. د هغه په لاسونو او پښو کې د وهمونو او خیالونو ولچک و زولنې نشته او هر څه ورته بربنډ ښکاري. لمر ته مخامخ په غړېدلو سترگو گوري او گروهمن دی چې د خدای او انسان ترمنځ وجودي یووالی دی.

هغه برخلیک او تقدیر ته غاړه نه ږدي خو د عیسیٰ علیه‌السلام او زرتشت ځینې خویونو او ځانگړنې لري.

د فداکارۍ او سرښندنې د لارې روستی ټکی د دار پر سر ځړېدل گڼي، خو تنده یې له خپلو وینو پرته په بل څه نه ماتېږي.

دا لېونی د جبران انقلابي او اوښتوني څېره ښکاروي، هغه څېره چې بریدونه او محدودیتونه نشي زغملای خو فاسده او درغلگره ټولنه چورلټ غندي.

په دې کتابگوټي کې ډاگیزېږي چې لېونتوب هغه شپږم حس دی چې انساني اندونه سپېڅي او انسان بشپړتیاینې او خدای ته د ورتلنې لپاره چمتو کوي.



## څنګه لېونی شوم؟

ډېر پخوا، د ډېرو خدايانو له پيدايښت څخه وړاندې، يوه ورځ له ژور خوبه راويښ شوم، وينم چې اوه واړه چاپلونه او نقابونه مې نشته. دا نقابونه مې په څمکه کې د ژوند په اوو پړاوونو کې اوبلي او پرمخ غوړولي ول.

له هر ډول چاپل پرته مې په بربنډ مخ په ګڼه‌ګوڼه کې منډې او چيغې کړې "غل!، غل!، ناشولته غل!"

نر، ښځو را پورې وخندل، ځينې وترهېدل او په ترات کورونو ته ولاړل.

چې د ښار منځ ته ورسېدم، پر بام ولاړ زلموټي ناري کړې، "دا سړی لېونی دی."

سر مې پورته کړ چې ويې وينم خو لمر مې له بربنډ مخ څخه په لومړي ځل مچکه واخيسته. دا لومړی ځل وو چې لمر مې بربنډ

مخ شکلاوه، زړه مې ولړزېد او په لمر مين شوم. وپوهېدم چې نور نو چايلونو او نقابونو ته اړتيا نشته. په بېخودۍ او بېسېکۍ کې مې چيغې وهلې، "مننه، مننه غلو! چې نقابونه مو را څخه ولوټل."

په دې توګه لېونی شوم، خو په لېونتوب کې مې خپلواکي او خونديتوب غبرګ وموندل. په يوازيتوب کې خپلواکي او په ذات و هستۍ مې د خلکو له پوهېدلو څخه خونديتوب. ځکه که څوک مو په زړه وپوهېږي، هڅه کوي چې ځينې برخې مو تر مرييتوب لاندې راولي.

خو نه بايد خپلې خونديينې او ژغورنې ته ډېر خوښ وم، ځکه که غل وغواړي چې له نورو غلو څخه خوندي شي بويه چې په بنديخانه کې وي.

## خدای

چې په لومړي ځل مې شونډې د خبرو او خوځېدلو شوې، سپېڅلي غره ته وختم او خدای ته مې ناري کړې،"خدایه! زه دې بنده یم، ستا پټه خوښه مې شریعت او قانون دی. څو چې ژوندی یم سرځوړی به درته ولاړ وم."

خو خدای ځواب را نه کړ او د درانه او ترهوونکي توپان غونډې راڅخه تېر شو.

زر کاله روسته، سپېڅلي غره ته بیا ولاړم او خدای ته مې ووې، "خالقه! تا له خاورو څخه جوړ کړم، خپله روح دې راکې پو کړه او ژوند دې راکړ نو ټول ځان مې ستا پوروړی دی."

بیا هم خدای ځواب رانه کړ او د زرګونو مرغانو د سېل په څېر راڅخه ولاړ.

زرکاله روسته، بیا سپېڅلي غره ته وختم، په دریم ځل له خدای سره وغږېدم، "پلاره! زه دې

بچــی یــم، پــه مینــه او زړســوي دې نــړۍ تــه راوړی یــم او پــه مینــه او عبــادت بــه ســتا د نــړۍ او پینــۍ مــیراث وړم."

دا ځــل هــم خــدای بې‌ځوابــه پرېښــووم او د هسـکو غونډیـو د پوښـونکو لـړو غونـدې پـه خپلـه مخـه ولاړ.

زرکالــه روســته، بیــا ســپېڅلي غــره تــه ورغلــم او پــه څلــورم ځــل مــې خــدای تــه ووې، "زمــا خدایــه!، زمـا روسـتۍ پایلـې او موخـې!، زه دې پـرون او تـه مـې سـبا یـې. زه د ځمکـې پـه تیاروکـې ولـۍ او تـه مـې د هسـک پـه رڼـاوو کـې غوټـۍ او ګل یـې. زه او تـه دواړه د لمــر رڼــا تــه وده کــوو."

پــه دې شــېبه کــې خــدای را بانــدې راټیــټ شــو، پــه غــوږ کــې یــې خــوږې او مینه‌ناکــې خــبرې را تــه وکــړې؛ څــه ډول چــې ســیند ویالــې رانغــاړي او خپــل زړه تــه یــې ننبــاسي، خــدای خپــل ګــوګل تــه دننــه کــړم او چــې دښــتو او بېدیــاوو ته را کوز شوم ، هلته هم خدای راسره وو.

## ملګریه!

ملګریـه، هغسـې چـې ښـکارم نـه یـم. هسـې یـو ښـکلی، نـرم او پـه ځـیر اوبلـی کمیـس وینـې چـې مـا دې لـه پوښـتنو ګروېږنـو او تـا مـې لـه ناغېـړۍ او بېپروایـۍ ځخـه ساتي.

خـو پـه مـا کـې هغـه پـټ "زه" چـې ادعـا کـوي زه یـم، یـو پوښـلی او سرغـچ راز دی چـې لـه مـا پرتـه پـرې هېڅـوک نـه پوهېـږي او پـه دې توګـه بـه د تـل لپـاره پـټ او ناپېژندلـی پاتـې شي.

نــه غــواړم چــې ټولــې خــبرې او کړنــې مــې ومنـې، ځکـه خـبرې مـې سـتا د خیالونـو لـه انګازو او کړنـې مـې سـتا د هیلـو لـه سیوري پرتـه بـل څـه نـه دي.

ملګریــه، کلــه چــې وایــې "بــاد ختیــځ تــه لګېـږي"، پـه منـډه وایـم "هـو، ختیـځ تـه لګېـږي"،

ځکـه نـه غـواړم وپوهېـږې چـې سـمندريوني اندونـه مې له بادونو او سيليو سره الوتلای نشي.

تـه خپـل پخـواني او لرغـوني اندونـه لـه بـاد سره يـو ځـای اوبـې او زمـا سـمندروزمه ژور فکرونـه، نـه درک کـوې، او ښـه ده چـې درک کـولای يـې نشـې ځکـه غـواړم پـر سـمندر يـوازې وګرځـم.

ملګريـه، چـې سـتا ورځ پيـل شي، پـه مـا شـپه راشي، مګـر بيـا هـم د تيـارو تـر شـا د لمـر لـه هغـه زرينـو وړانګـو غږېـږم چـې پـر غـرو سرونـو ناځـي او لـه نڅـا څخـه يـې پـه دښـتو او راغونـو تـور سـيوري خپرېـږي.

دا هـر څـه ځکـه درتـه وايـم چـې تـه مـې د تيـارو سـندرې نشـې اورېـدلای او د سـتورو او سـتورتلېزو ترمنـځ مـې د وزرونـو رپـا نشـې ليـدلای او ښومره ښـه چـې نـه يـې اورېـدلای او نـه يـې ليـدلای شـې، ځکـه غـواړم شـپه يـوازې رڼـه کـړم.

ملګريـه، کلـه چـې تـه خپـل هسـک تـه خېـژې، زه مـې دوزخ تـه کوزېـږم، کـه څـه هـم زمـا او سـتا ترمنـځ سـتغيونی واټـن دی، ملګـری مـې بولـې او ملګـری دې بـولم، ځکـه نـه غـواړم دوزخ مـې ووينـې چـې لمبـې يـې سـترګې دروسـوزوي او لوګـي يـې سـا درډوبـه کـړي، او نـه غـواړم چـې دوزخ تـه مـې راشـې

چې له هر څه سر وټکوې، ځکه غواړم چې په خپل دوزخ کې یوازې وم.

ملګریه، ته له رښتیا، ښکلا او رښتینولۍ سره مینه لرې، زه هم ستا لپاره وایم چې انسان باید په دې ښېګڼو مین وي، خو په زړه کې درپورې خاندم، پټ خاندم، ځکه غواړم یوازې وخاندم.

ملګریه، ته یو پوه، ویښیار او لوی، بلکه یو ستر انسان یې، ځکه نو ستا د لویۍ په پار درسره د پوهې او سول په ژبه غږېږم، خو زه ستا له نړۍ څخه لرې د یوې ناپېژاندې دنیاګۍ لېونی یم چې لېونتوب مې پټوم، ځکه غواړم په لېونتوب کې هم یوازې وم.

ملګریه، ته مې ملګری نه یې، خو څنګه دې وپوهوم چې ملګری مې نه یې؟

زما و ستا لاره چې دواړه لاس په لاس پرې رهي یو سره بېله ده.

# ځمځبلی[1]

یو ځل مې ځمځبلې وپوښت چې "په دې کروندو کې له يوازې اوسېدلو څخه ستومانه شوی نه يې؟"

وې، "په ترهولو کې يو ژور او په ياد پاتېدونی خوند دی چې هېڅکله به ترې ستړی نه شم."

له يوې شېبې چورت روسته مې ووې، "رښتيا وايې، ما هم دا ډول خوند ځکلی دی."

وې، "نه، يوازې هغوی دا خوند اخيستلای شي چې منځ يې له بوسو ډک وي."

ترې ولاړم، خو نه پوهېدم چې ويې ستايلم او که يې وغندلم.

يو کال تېر شو او ځمځبلی فيلسوف شو. ورپېښ شوم، وينم چې تر خولۍ لاندې يې دوې کښاخې ځاله جوړوي.

---

۱ـ په کښت و کرونده کې د مرغانو، شکوڼانو او نورو ځناورو د ترهولو لپاره درول شوې څېره چې ځينې يې شيشۍ، څروی، برلک، ټپک، لولو، ډوری او څړی بولي.

# خوب گرځي

په هغه ښار کې چې زيږېدلی وم، يوه مور و لور اوسېدله چې په ويدو به گرځېدلې.

يوه شپه چې ټوله نړۍ چوپې چوپتيا نيولې وه، مور و لور په خوب کې رهي او څو شېبې روسته په خپل لړوپوښلي بڼ کې سره مخامخ شوې.

مور ووې، "مخ دې ورک شه! ته مې هغه دښمن يې چې ځواني دې راڅخه وتروړله او زما د ژوند په کنډوالو دې د خپل ژوند بنسټ کېښود. کاشکي وژلای مې شوای."

لور ووې، "او زړنگې، بدمرغې او ځانپالې ښځې! ته زما او زما د خپلواکې اروا ترمنځ ولاړه يې، ته هغه څوک يې چې غواړې ژوند مې ستا د تت او زموللي ژوند انگازه وي. کاشکي مړه وای!"

په دې وخت کې چرگ اذان وکړ او دواړې مېرمنې راويښې شوې.

مور په مينه ووې، "زړگيه، ته يې؟" او لور په مينه ځواب ورکړ، "هوکې، گرانې."

## ویښیار سپی

یـوه ورځ ویښـیار سـپی د پیشـوګانو پـه یـوه ډلـه ورپېـښ شـو، چـې ورنـږدې شـو، پیشـوګانو کـوم ارزښـت ورنـه کـړ او هماغسـې پـه خپلـو چـارو لګیـا وې. سـپی ودرېـد، برنـد برنـد یـې ورتـه کتـل چـې یـوه غټـه او درنـه پیشـو را پورتـه شـوه، خپلـو همنوږیـو تـه یـې سـترګې ورواړولـې او بیـا یـې ووې، "باورمنـو ورونـو! دعـا وکـړئ او کـه د زړه لـه کومـې بیـا بیـا دعـا وکـړئ، بـې لـه شـکه چـې پـه یـوه منـډه بـه د موږکانـو بـاران دربانــدې وشي."

سـپي ددې خـبرې پـه اورېدلـو سره پـه زړه کـې وخنـدل، وګرځېـد او لـه ځـان سره یـې ووې، "اې ړنـدو او ناپوهـه پیشـوګانو، ایـا پـه کتابونـو کـې یـې نـه دي لیـکلي او یـا زه او لـه مـا وړانـدې زمـا پـلار نـه پوهېدلـو چـې کـه پـه دعـا، زاریـو او زګېرویـو څـه ورېـږي هغـه بـه مـوږکان نـه، بلکـه هډوکـي وي."

## دوه زاهدان

د یوه دنګ غره پر سر د خدای په لمانځنه بوخت، یو په بل ګران، دوه زاهدان اوسېدل. دواړو له یوه خاورین کنډولي پرته بل څه نه لرل.

یوه ورځ شیطان د مشر زاهد په زړه کې اندېښنې واچولې نو د کشر خوا ته ورغی او وې وې، "اوږده موده کېږي چې ګډ اوسېږو، وخت یې راغلی چې سره بېل شو. راځه چې خپله شتمني ووېشو."

کشر زاهد په خواشینۍ ځواب ورکړ، "وروه، له تابېلېدل مې زړه دردوي، خو که ته یې اړین بولې چې ولاړ شې نو بیا سمه ده."

کنډولی یې را واخیست، ورته یې ونیو او زیاته یې کړه، "وروه، دا خو نه وېشل کېږي، دا دې ستا وي.

"مشر زاهد په قهرېدلې بڼه ځواب ورکړ، "زه خيرات نه غواړم، يوازې خپله برخه غواړم، بويه چې کنډولی وويشل شي."
کشر ووې، "که لوښی مات کړو نو د دواړو په درد نه خوري، راځه چې پچه پرې واچوو."
خو مشر زاهد ورغبرګه کړه، "زه له خپلې برخې پرته بل څه نه غواړم، نه مې خوښېږي چې عدالت او خپله ونډه يوې ړندې پچې‌اچوونې او تصادف ته وسپارم، بايد کنډولی وويشل شي."
کشر چې وپوهېد، دا وېينې راوېينې نوره ګټه نه لري نو وې وې، "که په رښتيا دې روستۍ غوښتنه همدا وي نو سمه ده، کنډولی به مات کړو."
مشر زاهد له غصې تور و شين شو او چيغه يې کړه، "ځغله! لوده، ډارنه، له جګړې تښتې."

## غوښتونکی، موندونکی دی

یو وخت یوه سړي یوه کوټه/ ډېرۍ ستنې لرلې.

یوه ورځ د یوه نصراني مور ورته راغله او وې وې، "د زوی خت (کمیس) مې خیرې شوی دی، مزدک (معبد) ته رهي دی، غواړم ورته یې وګنډم، که یوه ستنه په پور راکړې؟"

سړي ستنه ورنه کړه، خو یوه ارزښتناکه خبره یې وروښووله چې معبد ته له تللو وړاندې یې خپل زوی ته ووایي، "غوښتونکی، موندونکی دی."

## اووه نفسونه

د شپې په چوپه چوپتیا کې چې نیم ویده او نیم ویښ وم، اووه واړه نفسونه مې را غونډ او په خبرو شول.

لومړي ووې، "په دې لېوني کې کالونه کالونه اوسېدلی یم. د ورځې مې ورته دردونه او د شپې مې ورته غمونه تازه کړي دي. نور نو زره‌چاودی یم، اوس باید پاڅون وکړم."

دویم ووې، "وروره، له ما ډېر ښه یې، زه اړ یم چې ددې لېوني په خوښیو کې ګډ وم. له خندا سره یې وخاندم، په ښادیو کې یې سندرې وبولم او رڼو اندونو ته یې په درې وزرو پښو وناڅم. اوس که خبره د پاڅون او اعتراض وي نو تر ټولو وړاندې باید زه وم."

دریم ووې، "او زه څنګه؟ زه خو د مینې او عشق رنځور یم، ددې لېوني، د لېونی مینې او

وحشي خيالونو او هيلو له لاسه لولپه يم، نو له تاسو ټولو لومړی باید زه سر وغړوم."

څلورم ووې، "زه له تاسو ټولو بدمرغه او بدبخته یم. ددې لېوني په زړه کې د کرکې، رخې او دښمنۍ د اورونو بلول زما پر غاړه دي. زه د دوزخ په تورو سمڅو او غارونو کې زېږېدلی اورنی نفس یم، نو تر ټولو لومړی د پاڅون او سرغړاوي حق زما دی."

پینځم ووې، "نه، دا زه چې ددې لېوني اندونه او واندونه اوډم، لوږه او تنده یې ګالم او له دمې او سا اخیستنې پرته ورته په بې‌پایه تشیال کې په ناپېژندلیو او ناپنځېدلیو پسې ګرځم نو حق نه لرم چې له تاسو ټولو مخکې پاڅون وکړم؟"

شپږم ووې، "ښه، زه خوارکی، بېچارګی او یو ګوټ‌ناستی کارګر چې په پېښیالیو لاسونو او ویښو سترګو ورځې انځوروم او بې شکله او بدرنګه توکیو ته ښکلې او تلپاتې بڼې وربښم، نو دا مې حق دی چې پاڅم او له دې لېوني څخه غچ واخلم."

اووم ووې، "وای وای! د ټاکلې دندې او ښکلي کار په پلمه غواړئ ددې بې‌وزلي په وړاندې پاڅئ؟ کاشکي زه ستاسې د کوم یوه په څېر وای چې لږ تر لږه یو کوچنی کار خو مې کولای. زه خو وزګار نفس یم چې د دوو لاپایو، چوپتیا او تیارې ترمنځ

ناست یم. په داسې حال کې چې تاسې هر یو په یوه بڼه د ژوند په بیا پنځا بوخت یئ. ګاونډیانو، اوس کوم یو، زه او که تاسې د پاڅون او او سرغړاوي حق لرئ؟

کله چې اووم نفس خپلې خبرې وکړې، دې نورو ورته مړه مړه وکتل، زړه یې پرې وسوزېد خو څه یې ونه ویل.

شپه پخېدله او شپږ واړه په خپله برخه خوښ یو په بل پسې ویدېدل، خو اووم هماغسې ویښ وو او د ټولو څیزونو تر شا یې هېڅ ته کتل.

# جگړه

یوه ورځ په پاچاهي ماڼۍ کې جشن وو. مېلمانه تلل و راتلل چې يو سړی راغی او واکمن ته يې درناوی وکړ. ټولو حيران دريان ورته وکتل. يوه سترګه يې بوټه راوتلې وه او له کاسې يې وينې بهېدلې.

واکمن پوښتنه وکړه، "څه درپېښ شوي؟"

سړي ځواب ورکړ، "ښاغليه، زه غل يم، نن شپه تررېمی وه، ولاړم چې د صراف هټۍ ووهم، لار مې غلطه کړه او له کړکۍ څخه د جولا دوکان ته ولوېدم. تياره وه، سترګو څار نه کاوه د جولا په ماشين ورپرېوتم او سترګه مې داسې شوه. اوس له تاسې غواړم چې جولا ته سزا ورکړئ."

واکمن، جولا راوغوښت او هغه هم راغی. پرېکړه وشوه چې يوه سترګه يې وايستل شي، خو جولا ووې، "ښاغليه، ستاسې پرېکړه پر ځای ده، د



نیاو لـه مخې بویـه چـې مـې یـوه سـترګه وایسـتل شي، مګـر ورهڼـه (کسـب) مـې دوو سـترګو تـه اړتیـا لـري چـې د اوبـدل کېـدوني ټوکـر داوړه لـوري پـرې ووینـم. پـه ګاونـډ کـې مـې یـو کوښـار (موچـي) دی چـې زمـا پـه څېـر دوې سـترګې لـري خـو کار یـې پـه یـوه سـترګه هـم کېـږي.

واکمـن، موچـي راوغوښـت. همـدا چـې راغـی یـوه سـترګه یـې وایسـتل شـوه او پـه دې توګـه عدالـت پـر ځـای شـو.

# ګیدړ

په لمرختو کې ګیدړ خپل سیوري ته وکتل نو وې وې، "نن غرمه به اوښ خورم." ټول ګهیځ په اوښانو پسې وګرځېد، خو غرمه یې چې خپل سیوري ته بیا پام شو، وې، "یو موږک مې بس دی."

## ویښیار پاچا

یو وخت، د ویراني (Wirani) په نوم په یوه لرې پراته ښار باندې یو ځواکمن او ویښیار پاچا واکمن وو چې له ځواکه یې خلک ډارېدل خو په پوهه یې ټول مینان ول.

د ښار په زړه کې، یکې یو کویی (کوهی) وو چې خوږې او سړې اوبه یې لرلې. خلکو، پاچا، درباریانو او ټولو یې اوبه څښلې.

یوه شپه، چې ټول ویده ول، ښار ته کوډګره راغله او چې کویي ته یې اووه څاڅکي کوډګرانه اوبه څڅولې وې وې: "له دې روسته که څوک دا اوبه وڅښي لېوني به شي."

په سبا چې هر چا د کویي اوبه څښلې، د کوډګرې له وینا سره سم لېونیانېدل. یوازې پاچا او وزیر ول چې لا یې اوبه نه وې څښلې.

په ښار کې ډنډوره شوه چې پاچا او وزیر

لېونیـان شـوي دي. خلکـو پـه لارو کوڅـو او بازارونو کې یـو بـل تـه ویـل چـې مـوږ یـو لېونـی پاچـا نـه غـواړو، هغـه بایـد لـه واکـه لـرې کـړو.

ماښـام وو چـې پاچـا خـبر شـو، پـه منـډه یـې سرەزرلـی کټـوری پـه اوبـو پسـې واسـتاوه. کټـوری یـې پـر سر واړاوه او ښـه پـه خونـد یـې اوبـه وڅښـې، پاتـې یـې وزیـر تـه ورکـړې چـې هغـه یـې هـم وڅښـي.

خلـک د پاچـا پـه دې کار زښـت ډېـر خوشـاله شـول چـې پاچـا او وزیـر یـې بېرتـه عقلمـن او ویښـار شـوي دي.

# هیله

دري واړه، جولا، ترکاڼ او کېڅکن (قبرکن) په شرابخونه کې یوه مېزه ته کېناستل.

جولا ووې، "نن مې یو کتاني کپن د سرو زرو په دوو سِکو پلورلی دی. کوم شراب مو چې زړه غواړي شه په خوند یې وڅښئ."

ترکاڼ ووې، "ما نن یو ډېر گرانبیه تابوت پلورلی دی نو شرابونه او کبابونه به غبرگ وهو."

کېڅکن ووې، "که څه هم ما نن یوازې یو قبر کیندلی خو دوه برابره مزد یې راکړی نو له شاتو ډک کېکونه هم خوړلی شو."

هغه شپه په شرابخونه کې د دوی د شرابو، غوښو او کېکونو د سپارښتنو په توسن ټول بوخت او دوی په مزو چړچو کې ډوب ول.

د شرابخونې څښتن چې لاسونه یې موښل، خوشاله وو او خپلې مېرمنې ته مسک کېده

چې مېلمانه يې په خلاص لاس بې‌خرته لګښت کوي.

شپه ناوخته وه، سپوږمۍ هسکه ولاړه وه چې درې واړه راووتل او په کوځه کې يې په جګ غږ سندرې او خنداګانې پيل کړې.

کوربه او مېرمن يې څو شېبې په وره کې ودرېدل او بيا يې ور تاله کړ. ښځې ووې، "واه، څومره ښاغلي، لاس‌خلاصي او ځوانمرده! بختور به وو که داسې خلک هر وخت راشي، بيا به نو اړ نه وو چې زوی مو دلته شراب‌خونه وساتي او سترياوې وګالي. ښه به يې وروزو چې کشيش شي.

## نوی خوند

تېره شپه مې يو نوی خوند وپنځاوه، خو همدا چې په لومړي ځل مې ترې څکه کوله، شيطان و پرښته غبرګ راورسېدل او د خونې په وره کې سره کښېوتل. يوه په زوره ناره کړه، "دا ګناه ده!" او بل ورځواب کړه: "دا تقوا ده!"

## بله ژبه

لــه زېږېــدو درې ورځــې روســته، پــه خپلــه ورېښــمينه زانگــو کــې زنگېــدم، شــاوخوا نــوې نــړۍ تــه مــې حيران حيران کتـل چـې مـور مـې لـه ممنـې/ دايــې وپوښــتل، "زوی مــې څنگــه دی؟"

ممنـې ځـواب ورکـړ، "ښـه دی مېرمنـې، درې ځلې مې تـی ورکـړی، تـر اوسـه مـې دومـره خياليگـر، تانــد و خوشــاله وړوکــی نــه وو ليدلــی."

پـه غصـه شـوم او بغـارې مـې کـړې، "مـورې، دروغ وايــي؛ توشــکه مــې کلکــه ده، شــيدې يــې تريــخ خونـد راکـوي، د تي بـوی را بانـدې بـد لگېـږي. زه پـه ډېــره بــده ورځ يــم."

مـور مـې ونـه پوهېـده او ممنـه هـم شکه نـه شـوه، ځکـه ژبـه مـې د هغـې نـړۍ وه چـې تـرې راغلـی وم.

د ژونـد مـې يوويشـتمه ورځ وه چـې عيسـوي کېـدلم، کشيش مـې مـور تـه ووې، "مېرمنـې، تـه بايـد

خوشاله وې چې زوی دې عیسوي زېږېدلی دی."

زه حیران شوم او کشیش ته مې ووې، "نو ستا مور باید په جنت کې خپه وي چې ته عیسوي نه یې زېږېدلی."

خو کشیش مې په ژبه ونه پوهېد.

اوه میاشتې روسته یوه ورځ پالګر را ته وکتل او مور ته مې یې ووې، "زوی به دې ډېر لوی سړی شي. ډېر خلک به یې تر لاس لاندې وي."

ما کوکې کړې، "دا وړاندوېینه ناسمه ده، زه به موسیقي زده کوم او له موسیقيپوه پرته به بل هېڅ شی نه شم."

په هغه عمر کې مې هم څوک په خبره ونه پوهېدل او زه لا هېښپېښ شوم.

اوس درېدېرش کاله تېر شوي، مور، ممنه او کشیش ټول مړه شوي دي (ارواګانې یې ښادې). یوازې پالګر ژوندی دی. پرون مې د کلیسا دروازې ته څېرمه ولید. د خبرو په ترڅ کې یې راته کړه، "زه تل پوهېدم چې ته به سازي کېږې، ان لا ته چې وړکی وې ما دې په اړه همدا اټکل کړی وو."

د پالګر خبره مې ومنله، ځکه چې اوس ما هم د هغې نړۍ ژبه هېره کړې ده.

# انار

یو وخت چې د انار په زړه کې اوسېدم، له یوې دانې مې واورېدل چې ویل یې، "یوه ورځ به ونه شم، باد به مې په څانگو کې نغمې بولي، لمر به مې په پاڼو باندې ناڅي او زه به په ټولو فصلونو کې ښکلې او غښتلې وم."

بیا بلې دانې ووې، "زه چې ستا په څېر ځوانه وم، همدا چورتونه مې وهل، خو اوس چې په کچ و مېچ پوهېږم، وینم چې هیلې مې بې‌ځایه وې."

درېیمې دانې ورزیاته کړه، "په موږ کې داسې څه نه وینم چې یو پرتمین راتلونکی دې راوبښي."

څلورمې ووې، "نو که پرتمین راتلونکی نه وي، نو زموږ ژوند خو بې‌مانا دی."

پینځمې ووې، "ولې د راتلونکي په اړه لانجې کوو، په داسې حال کې چې حتیٰ اوس نه پوهېږو

چې څه یو."

خو شپږمې دانې یې په خوب کې ووې،
"مور چې هر څه یو، هماغه به وو."

اوومې ووې، "زه به پوهېږم چې څه به کېږي خو ویلی یې نشم."

نو بیا اتمه، نهمه، لسمه او ډېرې نورې دانې وغږېدې تر دې چې د غالمغال له لاسه یې ما څه نشوای اورېدلای.

په هماغه ورځ د انار له ګوګل څخه د یوه بهي/ بویي (quince) زړه ته وکوچېدم. هلته دانې لږې او ډېرى مهال غلې وې.

# دوه کپسونه

د پلار په بڼ کې مې دوه کپسونه ول. په يوه کې زمری وو چې د پلار مريیونو مې د نینوا (Ninavah ) له دښتې راوړی وو؛ په بل کې يوه چنچڼه وه چې تل به يې سندرې بللې.

هر ګهيځ به چنچڼې زمري ته وې، "بنديوانه وروره، ګهيځ دې ښه!"

## درې مېږيان

درې مېږيان، لمر ته د يوه ويده سړي په پوزه، سره مخامخ شول. د خپلو پرګنو په دود يې له يو بل سره روغبړ وکړ او بيا همغلته په خبرو اترو شول.

لومړني ووې، "داسې لغړ او شاړ ډاګونه او غونډۍ مې تر اوسه نه وې ليدلې. ټوله ورځ په يوه دانه پسې چې د هر څه وي وګرځېدم خو بېخي نه پيدا کېږي."

دويم ووې، "ما هم کوم څه ونه موندل، ټول ګوګونه او ګوټونه مې وپلټل. ګومان کوم دا هغه نرمه او ښوينده ځمکه ده چې زموږ خلکو به وې چې هېڅ څيز وربانډې نه زرغونېږي."

درېيم مېږي سر راپورته کړه او زياته يې کړه، "ملګرو، نن موږ د ستر مېږي په پوزه ولاړ يو. هغه ستر او بې‌پايه مېږی چې ځان يې دومره لوی دی چې موږ يې ليدلای نشو، سيوری يې دومره

پـراخ دی چـې بریدونـه یـې ټـاکلای نشـو او غـږ یـې دومـره جګ دی چې یـې اورېـدلای نشـو. او هغـه دی چـې هـر چېرتـه شـته دی."

د درېیـم مېـرې پـه دې خـبره، نـورو مېرېانـو یـو بـل تـه وکتـل او وخندېـدل.

پـه همـدې شـېبه کـې سـړی وښـورېد، راویـښ شـو، پـوزه یـې وموښـله او درې واړه مېرېـان چخپیـت شـول.

# کېڅکن

یو وخت چې د خپل مړه نفس په خښولو لګیا وم، کېڅکن (قبرکن) مې خوا ته راغی، وې: "دلته چې د مړیو خښولو ته څوک راځي، تر ټولو راته ګران یې."

ما ووې: "ته ډېر مهربانه یې، خو ولې زه؟"

وې: "ځکه چې ټول په ژړا راځي او په ژړا ځي؛ یوازې ته یې چې په خندا راځې او په خندا ځې."

## د مزدک په پوړیو کې

بېګا مې د مـزدک (معبـد) پـه مرمرینـو پوړیـو کـې د دوو نرینـه وو ترمنـځ ناسـته ښـځه ولیـده چـې یـو اننګـی یـې رنګالوتـی او بـل یـې تـک سـور وو.

## سپېڅلی ښار

په ځوانۍ کې مې اورېدلي ول چې يو ښار دی چې ټول خلک يې د سپېڅلي کتاب له لارښوونو سره سم ژوند کوي.

له ځان سره مې وې چې دې ښار ته به ځم او له برکتونو به يې ګټنه کوم.

ښار ډېر لرې وو. د سفر لپاره مې ښه ډېر خوري تيار کړ. رهي شوم، په څلوېښتمه ورځ مې ښار له لرې وليد او په يوڅلوېښتمه ورځ ورورسېدم.

وای! د ښار ټولو خلکو يوه سترګه او يو لاس نه لرل. هېښتيا وړی وم، له ځان څخه مې پوښتل، "آيا د دومره سپېڅلي ښار وګړي بايد يولاس او يوه سترګه ونه لري؟!"

پام مې شو چې هغوی هم زما دواړو لاسونو او دواړو سترګو ته هک پک پاتې دي او په اړه يې سره ګړېږي.

ما وپوښتل، "آیا په رښتیا دا هماغه مبارک ښار دی چې ټول مېشتوال یې د سپېڅلي کتاب له لارښوونو سره سم ژوند کوي؟"

هغوی ووې، "هوکې، دا هماغه ښار دی."

ما ووې: "نو بیا پر تاسې څه شوي دي، یو لاس او یوه سترګه مو چېرې دي؟"

ټول راوپارېدل او بیا یې ووې، "راشه او وګوره."

د ښار په منځ کې مزدک ته یې بوتلم. ګورم چې یوه ډېرۍ وچ شوي لاسونه او سترګې پرتې دي.

ومې وې، "وای وای! دا د کوم خونړي او سوبمن کار دی؟"

پس‌پسی شو، بیا یو سپین‌ږیری راوړاندې شو او زیاته یې کړه، "موږ په خپله دا کار کړی دی. خدای پاک، پر خپلو شیطانانو باندې برلاسي او سوبمن کړي یو."

بیا یې د ټولو په بدرګه دنګ محراب ته بوتلم، بره لیکنه یې راوښووله چې داسې پکې لیکل شوي ول: "که ښۍ سترګه دې ګناه ته اړ کړي هغه وباسه، ځکه ددې پرځای چې ټول ځان دې په دوزخ کې ولوېږي ښه ده چې د بدن یو غړی دې له

منځـه ولاړ شي. کـه ښـی لاس دې ګنـاه تـه مجبـور وي نـو غـوڅ يـې کـړه، دا دې ګټـه ده چـې پـه دوزخ کـې د ټـول ځـان د سـوزېدلو پـر ځـای دې يـو هـډ نـه وي."

ايلـه وپوهېـدم. خلکـو تـه مـې مـخ کـړ او پـه چيغـو مـې ووې، "پـه تاسـې کـې کـوم نـر يـا ښـځه شـته چـې دوې سـترګې يـا دوه لاسـونه ولـري؟"

هغـوی ځـواب راکـړ، "نـه، هېڅـوک نشـته، مګـر هغـوی چـې عمرونـه يـې کـم دي او لاهومـره پاخـه نـه دي چـې سـپېڅلی کتـاب ولـولي او پـه سپارښـتنو يــې پــوه شي."

همـدا چـې لـه مزدکـه راووتـم پـه تـراټ مـې برکتـي ښـار پرېښـود، ځکـه زه چنـدان زلمـی نـه وم او سـپېڅلی کتـاب مـې هـم لوسـتلای شـوای."

## د ښو او بدو خدایان

د غره پر سر د ښو او بدو خدایان سره مخامخ شول.

د ښو خدای ووې، "وروره، ښه ورځ!"

د بدو خدای ځواب ورنه کړ؛ نو د ښو خدای زیاته کړه، "لکه چې نن دې طبیعت خراب دی؟"

د بدو خدای ووې، "هو، ښه نه یم، دا شپې ورځې خلک زما و ستا توپیر نه کوي، ډېر ځله مې ستا په نوم یادوي. دا کار مې هېڅ نه خوښېږي."

د ښو خدای ووې، "خو په ما هم تېروځي او ستا په نوم مې بولي."

د بدو خدای رهي شو او د بنیادم ناپوهۍ و بېعقلۍ ته یې کنځاوې کولې.

## نابری

نابریه، زما نابریه!

زما لېونتوبه، زما ګوتېناستې او یوازیتوبه!

له زرګونو کامیابیو راته ګرانه او د نړۍ له ټولو ویاړونو را ته خوږه!

نابریه، زما نابریه، زما ځانپېژندنې او سرغړاویه!

ستا له برکته، پوهېږم چې لا زلمی او ګړندی یم او نور نو د زموللو ګلونو د هارونو له لومو بهر. په تا کې یوازیتوب ته ورسېدم او د شړل کېدلو او کنځا اورېدلو خوند مې احساس کړ.

نابریه، زما نابریه، زما ځلاندې تورې او ځلانده ډاله!

ستا په سترګو کې مې ولوستل چې په پلاز کېناستل یانې مریی کېدل، پېژندل کېدل یانې یورنګه کېدل، موندل کېدل یانې خپل روستي برید ته رسېدل او د پخې شوې مېوې غوندې په ځمکه پرېوتل او خوړل کېدل.

نابریه، زما نابریه، زما زړور ملاتړیه!

ته به زما سندرې، ژړاوې او چوپتیاوې اورې او یوازې ته به وې چې د وزرونو له رپا، د سمندرونو له څپو او په شپه کې د اور اخیستو غرونو له لمبو به راته غږېږې. او یوازې ته به وې چې زما په ستغې او پرښینې اروا به راپورته کېږې.

نابریه، زما نابریه، زما بې‌مرګه زړورتیا!

زه او ته به له توپان سره خاندو، په ګډه به هغو ټولو ته قبرونه کیندو چې په مورږ کې مري، هوډمن به لمر ته درېږو او مورږ به خطرناک وو.

## شپه او لېونی

"شپې، زه تا غونډې یم، تیاره او بربنډ؛ په هغې اورنۍ لاره درومم چې د ورځنیو خوبونو پر سر مې تېرېږي، او چې پښه مې پر ځمکه ولګېږي، ورسره یوه خلنځه (لویه ځېږۍ) راټوکېږي."

"نه، ته زما غونډې نه یې، لېونیه؛ ته اوس هم شاته ګورې چې په رېګونو کې د خپلو پښو د خاپونو سټروالی ووینې."

"شپې، زه ستا په څېر یم، غلی او ژور؛ زما د یوازیتوب په ګوګل کې څښتنه (اِلهه) په لنګون ده چې د زوکېدوني په وجود کې یې اسمان ځمکې ته رسېږي."

"او لېونیه، ته زما په څېر نه یې، ته اوس هم له درده لړزېږي او د سمڅو او غارونو د سندرو له غږه ډارېږي."



"شپې، ستا په څېر یم، برماڼو او بوږنوړی؛ غوږونه مې د ښکېلو ولسونو له چیغو او د هېرو شوو سیمو له آهونو ډک دي."

"نه، زما په څېر نه یې، لېونیه؛ ته لا هم د خپل ستر ځان پر ځای له وړوکي هغه سره ملګرتیا کوې."

"شپې، ستا غوندې یم، ډېرزړی او وېروړی؛ په سمندرونو کې د کښتیو اور مې زړه روښانوي او له شونډو مې د مړو جنګیالیو وینې څاڅي."

"نه، زما غوندې نه یې، لېونیه، لا دې هم یوې بلې اروا ته زړه کېږي او لا هم د ځان لپاره په یوه قانون نه یې اوښتی."

"او شپې، ستا غوندې یم، په مزو کې، خوښ و خوشاله؛ زما په سیوري کې ویده سړی اوس هم په نوره شرابو مست دی او په ما پسې نښتې ښځه لا هم په خوندوره ګنا بوخته ده."

"او لېونیه، ته زما په څېر نه یې؛ اروا دې په اوو

پړونیـو کـې پوښـلې او زړه دې په ورغـوي کې نـه دی."

"سـتا پـه ځېـر یـم شـپې، پېځیالـی او ځـوړور؛ پـه ګوګل کـې مـې د مـړاوو مچکـو پـه کفنونـو کـې پوښـلي زړ مینـان خـښ دي."

"هوکـې، لېونیـه، آیـا تـه زمـا غونـدې یـې؟ تـه زمـا غونـدې یـې؟ آیـا تـه پـر توپـان، لکـه پـر اس چـې سـپرېږې، سـپرېدلای شـې او سـکروټې لکـه تـوره چـې نیسـې، پـه لاس کـې نیـولای شـې؟"

"سـتا غونـدې، اې شـپې، سـتا غونـدې، سـتر و لـوړ؛ پـلاز مـې د پرځېدلـو خدایانـو د ډېـرۍ پـر سر اېښـی دی؛ ورځـې مـې پـه مـخ کـې سرځـوړې تېرېـږي، لمـن مـې ښـکلوي او پورتـه راتـه کتـلای نـشي."

"زمـا د ترټولـو تیـاره زړګـي بچیـه، آیـا تـه زمـا غونـدې یـې؟ آیـا تـه زمـا ناایـل شـوي اندونـه انـدې او زمـا پـه بېپایـه ژبـه ګړېـږې؟"

"هوکـې، شـپې، مـوږ غبرګـوني خـور او ورور یـو؛ تـه فضـا ښـکاره کـوې او زه مـې اروا"

# مخونه

یو مخ مې ولید چې زر مخونه یې لرل، او یو مخ چې یوازې یو مخ یې درلود، ته وا قالب کړی یې دی.

یو مخ مې ولید چې په ځلا کې یې تر مخ لاندې بدرنګي لیدل کېده، او یو مخ چې باید ځلا یې ایسته شوې وای چې ترې لاندې ښکلا مې لیدلې وای.

یو زوړ مخ مې ولید چې د هېڅ ګونځو پوښلی وو ، خو یو ښوی مخ وو چې هر څه پکې حک ول.

زه مخونه پېژنم، او د خپلو سترګو له اوبلي پړوني هخوا وینم او پټ حقیقت ته رسېږم.

## ستر سیند

زه او اروا مې د لمبا لپاره یوه ستر سیند ته ولاړو، کڅ ته په ورسېدو مو هڅه وکړه چې یو غلی او ګوښه ځای ومومو.

ګرځېدو چې په یوه توربخنه تیږه ناست سړی مو ولید. له توبرې څخه یې په ګوتو کې لږ لږ مالګه راویستله او په سیند یې دوړوله.

اروا مې ووې، "دا بدوین (بدبین) دی. راځه چې ولاړ شو، دلته نشو لمبېدلای."

ولاړو، یوه ډونډوکي ته ورسېدو، هلته یو سړی په سپینه پرښه ولاړ وو او په لاس کې یې له یوې مرغلینې هړپۍ (صندوقچه) څخه اوبو ته خوږې/ شکرې اچولې.

اروا مې ووې، "دا ښوین (خوش‌بین) دی. نباید مور بربنډ ووینې."

همداسې وړاندې تللو چې په په سیندغاړه

کې مـو یـو بـل سـړی ولیـد چـې مـړه کبـان یـې راغونــډول او پــه مینــه یــې اوبــو تــه اچــول.

اروا مـې ووې، "دلتـه هـم نشـو لمبېـدلای، دا سـړی وګړپـال (philanthropist) دی."

ولاړو، یـوه ځـای تـه ورسـېدو چـې هلتـه یـوه بـل، د سـیند لـه غـاړې پـه رېګونـو کـې خپـل سـیوری انځـوراوه، سـترو څپـو بـه یـې ټولـې کرښـې ړنګولـې؛ مګـر ده بـه بیـا انځورولـې.

اروا مې ووې، "دا عارف دی، ځه چې ځو."

رهـي شـو، یـوه خلیجګـي تـه ورسـېدو. هلتـه یـو غلـی او ارامـه سـړی وو چـې د اوبـو ځګونـه یـې لپـه لپـه یـوې ډبرینـې کاسـې تـه اچـول.

اروا مـې ووې، "دا انګېریـال (idealist) دی. دا خـو پـه هېـڅ توګـه بایـد زمـوږ بربنډتیـا ونـه وینـي."

وړانـدې تللـو چـې ناڅاپـه مـو یـو غـږ واورېـد، "دا سـیند دی، ژور سـیند، سـتر او زورور."

ورغلـو، یـو سـړی دی چـې سـیند تـه یـې شـا اړولـې او غـوږ تـه یـې کونجکـه نیولـې او د هغـې شرهار اوري.

اروا مــې ووې، "ځــه چــې ځــو، دا رښــتینوال (realist) دی، کلیاتـو تـه یـې چـې پـرې نـه پوهېـږي شـا کـړې او پـه جزیاتـو بوخـت دی.

لیونی

نـو همداسې مخکې تللو ، د پرښـو ترمنځ پـه شـنيلي کې مـو يـو سـړی وليـد چې سر يې پـه رېګونـو کـې منډلـی وو. اروا تـه مـې ووې، "دلتـه لمبېـدلای شـو، هغـه مـو نـه وينـي."

اروا مـې ووې، "نـه دا تـر ټولـو خطرنـاک دی، وچشـېخ او تونـدلاری (puritan) دی.

د اروا پـه خپـره کـې مـې د ژورې خوابـدی نښـې را ښـکاره شـوې او بيـا يـې پـه ويرلـړلي غـږ ووې، "راځـه چـې لـه دې ځايـه ولاړ شـو. دلتـه د لمبېدلـو لپـاره کـوم ګوښـه او يـوازې ځـای نشـته. نـه مـې خوښـېږي چـې دا شـمال مـې زريـن وېښـتان خپـاره واره کـړي او پـه دې هـوا کـې دې زمـا سـپينې سـينې بربنـډې کـړي او يـا پرېـږدي چـې رڼـا مـې سـپېڅلی بربنډوالـی ښـکاره کـړي."

ولاړو، د يـوه لا سـتر سـيند پـه لټـون پسـې لـه دې سـيندغاړې ولاړو.

جبران خليل جبران

## سر په دار

خلکو ته مې ناري کړې، "زه باید په دار شم."
هغوی ووې، "ولې دې خون پر غاړه واخولو؟"
ځواب مې ورکړ، "نو څنګه به سرلوړي او ښاغلي
شئ چې یو لېونی نشئ په دارولای؟"
ویې منله، په دار یې وځړولم، ارامه شوم.
چې د اسمان او ځمکې ترمنځ ځړېدم، هغوی به
سرونه را پورته کړل چې ومېویني.
ویاړېدل، ځکه له دې وړاندې یې هېڅ وخت
سرونه، نه ول پورته کړي.
زما ننداري ته په ولاړو کې، یوه غبر وکړ، "غواړې
څه شی وسکیندې (جبران کړې)؟"
بل چیغه کړه، "د څه د ترلاسنې لپاره دې ځان
قربان کړ"
درېیم ووې، "ته به ګومان کوې چې په دې بیه
به نړیوال ویاړ وګټې؟"

ځلورم ووې، "وګورئ، څنګه مسېږي! ایا دا درد د بښلو دی؟"

ټولو ته مې په ځواب کې ووې، "یوازې په یاد ولرئ چې ما وخندل. زه کوم څیز نه جبران او نه قربانوم، ویاړ هم نه غواړم، بښنه هم نه غواړم، زه تږی وم، له تاسې مې وغوښتل چې د څښلو لپاره مې خپلې وینې راکړئ، ځکه د یوه لېوني تنده د هغه له خپلو وینو پرته په بل څه نشي ماتېدلای.

زه ګونګی وم، د خولې پر ځای مې در څخه ټپ وغوښت؛ زه ستاسې په شپو او ورځو کې بندیوان وم، د لا لویو ورځو او شپو پلو ته مې ور لټاوه.

اوس ځم، د هغوی په څېر چې له ما مخکې په دار شوي او تللي دي.

ګومان مه کوئ چې موږ به له غرغره کېدلو ستومانه شو. موږ باید د ډېرو او لا ډېرو خلکو له خوا زندۍ شو، د لا سترو ځمکو او لا سترو اسمانونو ترمنځ."

# ستورپوه

د مزدک (معبد) سیوري ته یوازې ناست وو.
ملگري مې ووې، "دا زموږ د سیمې تر ټولو پوه سړی دی."
ورورانډې شوم، له روغبړ روسته مې ورسره خبرې وکړې.
څه شېبه روسته مې ورته ووې، "ښنه غواړم چې پوښتم، څو څومره وخت کېږي چې څه نه وینې؟"
وې، "له زېږمهاله."
ما ووې، "په کومه پوهنځانگه کې کار کوې؟"
وې، "ستورپوه یم."
بیا یې لاس پر ټټر کېښود او زیاته یې کړه، "زه دا ټول لمرونه، سپوږمۍ او ستوري څارم."

## ستره هیله

دلتـه مې د ورور و خـور غـره او سـیند ترمنځ ناسـت یـم. کـه څـه هـم درې واړه، همرنگـه یـوازې یـو، مگـر یـوه ژوره، غښـتلې او ناشـنا مینـه مـو سره نښـلوي. دا مینـه مې د خور لـه ژورتیـا ژوره، د ورور له ځواکمنتیـا ځواکمنـه او زمـا د لېونتـوب لـه هېښـتیاوو ناشــناتره ده.

پـه هغـه لومړني سپېدېچاود بانـدې زرگونـه کالونـه اوښـتي چې مـوږ پکـې یـو بـل ولیـدل؛ کـه څـه هـم د ډېـرو نړیـو زیـږون، بشـپړتیا او مړون مـو لیدلـی خــو لا هماغســې زلمــي او ځــوږور یــو.

ځـوږور او زلمـي خـو بې‌یـار و بې‌بنـدازه، کـه څـه هـم تـل یـو بـل وینـو او یـو بـل پـه غېـږه کـې نیسـو خـو خـوښ و ارامـه نـه یـو.

نـو پـه ځېـلي شـوق او ناپـوره شـوې اړتیـا کـه بــه څــه خونــد وي؟

هغه اورنی خدای به کله راځي چې مې د خور پالنګ تود کړي؟
کوم ښځمن سمندري توپانونه به مې د ورور اورونه وژني؟
کومه مېرمن به زما د زړه واګې په لاس کې اخلي؟
د شپې په چوپه چوپتیا کې مې خور په خوب کې د اورني خدای ناڅرګند نوم یادوي، ورور مې په هغې سرې او لرې ځښتني (اِلهې) پسې چیغې وهي خو نه پوهېږم چې زه به چا ته ناره وهم.

★ ★ ★ ★ ★ ★ ★

دلته مې د ورور و خور غره او سیند ترمنځ ناست یم. که څه هم دري واړه، همرنګه یوازې یو، مګر یوه ژوره، غښتلې او ناشنا مینه مو سره نښلوي.

## یوه واښه ووې

یوه واښه د منې پاڼې ته ووې، "د رژېدلو په وخت څومره شورماشور کوې، ټول ژمني خوبونه دې راګډوډ کړل."

پاڼه وځاځېدله او وې وې، "په سپکو سپکه! ګونګیه او بدمغزه! ته په هسکه هوا کې نه اوسې، ته د بدلو په غبر څه پوهېږې."

پاڼه ورژېده، په ځمکه پرېوته او ویده شوه. پسرلی راویښه شوه خو یو ډکی واښه وه.

چې منی شو، ژمنی خوب پرې راغی او له هرې خوا وربانديې پاڼې را تویېدلې، تر شونډو لاندې یې له ځان سره وې، "وی، د منې پاڼو! څومره غالمغال کوئ، ستاسو له لاسه مې ټول ژمني خوبونه ګډوډ دي."

جبران خلیل جبران

## سترگه

یوه ورځ سترگې ووې، "ددې ناوونو هخوا غر وینم چې اوبرنگه لړو پوښلی دی؛ ښکلی نه دی؟"

غوږ څه شېبه غوږ نیولی وو، بیا یې ووې، "مگر چېرې دی غر؟ زه خو یې نه اورم."

بیا لاس ووې، "زه هسې بې ځایه هڅه کوم چې لاس پرې ووهم، زه خو کوم غر نه مومم."

پوزې ووې، "غر مر نشته، زه یې بویولای نشم."

نو سترگه بل پلو ته واوښته، ټول د هغې د ناشنا وَهم په اړه گړېدل او ویل یې، "په دې سترگه هرومرو څه شوي دي."

— لیونی —

## دوه پوهان

د افـکار (Afkar) پـه لرغـوني ښـار کـې دوه پوهـان اوسـېدل، يـو لـه بـل سره وران ول او يـو د بـل پوهـې او زدکـړې تـه بـه يـې سـپک کتـل؛ ځکـه چـې يـوه د خدايانـو پـه شـتوالي او بـل يـې پـه نشـتوالي بـاور درلــود.

يــوه ورځ پــه بــازار کــې يــو بــل تــه پــه مخــه ورغلــل، د خپلـو پلويانـو ترمنـځ د خدايانـو د شـتوالي يـا نشـتوالي پـه اړه سره کښـېوتل. لـه څـو ساعته ويلـو راويلــو روســته هــر يــو پــه خپلــه مخــه ولاړ.

شــپه شــوه، د خدايانــو نـټـيــالي (منکريــن) مـزدک (معبـد) تـه ولاړل، محـراب تـه مخامـخ پـه خاور پرېوتـل، خدايانـو تـه پـه زاريـو شـول چـې لـه پخوانـۍ بـېلارۍ او تېروتنــې څخــه ورتېــر شي.

هم‌مهالـه، هغـه بـل يـوه چـې پـه خدايانـو بـاور درلـود، خپـل ټـول سـپېڅلي کتابونـه وسـوزول؛ ځکـه لـه خپلــې عقيــدې اوښــتې او ناګروهمــن شــوی وو.

## کله مې چې ویر وزېږېد

کله مې چې ویر وزېږېد په ډېر پام مې ستراوه او په مینه او زړسوي مې ورته کتل. د نورو ژوندیو ځیزونو غوندې دی هم لویېده، ښکلا او غښتلتیا یې ډېرېدله او په ناشنا خوښیو او ښادیو کې ډوبېده.

مور له یو بل سره مینه کوله، چاپېره نړۍ هم راته ګرانه وه؛ ځکه ویر مې ډېر زړسواندی وو او زما زړه هم ورسره نرم شوی وو.

کله به چې له یو بل سره غږېدلو، ورځې به مو الوتلې او شپې به مو له خوبونو (رؤیا) مالامال وې؛ ځکه ویر مې ژبور وو او زما ژبه هم ورسره په خبرو راغلې وه.

کله چې ما و ده سندرې بللې، ګاونډیانو به په ورسیو او کڼکیو کې غوږ نیولی وو؛ ځکه زمونږ اوازونه سیندوزمه ژور او سندرې مو له ناشنا

یادونــو ډکــې وې.

کلـه بـه چې مـوږ دواړه چېـرې تللـو، خلکـو بـه پـه مينـه مينـه راکتـل او زمـوږ پـه اړه بـه يـې خـوږې خــوږې خــبرې کولــې.

ځينـو تـه بـه رخـه ورتلـه؛ ځکه ويـر يـو گرانبيه او ارزښــتمن څيـز وو چـې زه يـې پـه لرلـو سرلـوړی او ښــاغلی وم.

خـو ويـر مـې ومـړ، هغسـې چـې ټـول څيزونـه مـري. اوس زه لـه ځـان سره گړېدلـو او چـورت وهلـو تـه يــوازې پاتــې يــم.

اوس چـې کلـه غـږېـږم، خـبرې مـې پـه غوږونـو درنــې لگېــږي.

چې بدلې بولم، گاونډيان يې نه اوري.

چــې پــه کوڅــه کــې تېرېــږم، څــوک نــه را گــو ري .

يــوازې پــه خــوب کــې د خواخــوږی غږونــه اورم چـې وايـې، "وگـورئ، دا ويـده هغـه سـړی دی چـې ويــر يــې مــړ شــوی دی."

## کله مې چې خوښي وزېږېده

چې خوښي مې وزېږېده، په غېږ کې مې ونیوله، بام ته وختم او نارې مې کړې، "گاونډیانو، راشئ، راشئ، وگورئ، نن مې خوښي زېږېدلې ده. راشئ او دا خوشاله څیز وگورئ چې په لمر کې خاندي."

هېڅ گاونډی مې د خوښۍ لیدلو ته رانه غی؛ هېښ‌پېښ پاتې وم.

تر اوو میاشتو مې هره ورځ د بام پر سر د خپلې خوښۍ جار واهه مگر چا ارزښت ورنه کړ.

زه او خوښي یوازې پاتې شو؛ نه مو چا پوښتنه وکړه او نه مو څوک لیدن ته راغی.

خوښي مې رنگ الوتې او شیته شوه؛ ځکه ښکلا یې زما له زړه پرته د بل چا زړه ته لاره ونه موندله او نه یې پر شونډو چا شونډې کېښوولې.

بلاخره له یوازیتوب څخه مړه شوه.

اوس زه یم او زما د مړې خوښۍ او مړه ویر یادونه. خو یادونه د مني پاڼه ده چې څه شیبه له باد سره گړېږي خو بیا ورځخه هېڅ غږ نه پورته کېږي.

## بشپړه نړۍ

د ورکو ارواګانو خدایه!
د خدایانو ترمنځ ورکه خدایه!
غبږ مې واوره!
زړسواند برخلیکه چې موږ لېونۍ او لالهاندې ارواګانې څارې!
غږ مې واوره!
زه تر ټولو نابشپړ، په یوه بشپړ توکم کې اوسېږم.
زه انساني هیولا، د سربداله توکونو وریځ، د پوره شویو نړیو ترمنځ ګرځم؛ د هغه خلکو ترمنځ چې بشپړ قوانین، سوچه نظامونه، اوډلي اندونه، منظم خوبونه (رؤیا) او سیه شوي او لیکلي واندونه (خیالونه) لري.
خدایه!
د دوی ارزښتونه ټاکلي او ګناهونه یې څرګند دي. حتیٰ هغه بې‌شمېره چارې یې چې د ثواب و وبال ترمنځ په نارښا کې پرتې دي، هم سیه کړې او شمېرلې دي.

دلته ورځ و شپې د چلند په فصلونو وېشل شوې دي او د کره او دقیقو قوانینو تابع دي چې تېروتنې ته پکې ځای نشته.

خوړل، څښل، ویدېدل، اغوستل او بیا په خپل وخت دمه کېدل.

کار کول، لوبېدل، سندرې بلل، نڅېدل او چې یې وخت راشي ځای پر ځای درېدل.

داسې اندل، تر دې کچې نګېرل او چې ستا له هسکځنډو (افق) څخه پلانی ستوری راوخېژي، له اندلو او نګېرلو څخه لوېدل.

د ګاونډي مال په خندا لوټل، د لاس په پټمنانه ښورېدا سره ډالۍ ورکول، په اوږداندۍ ستایل، په کاغ و احتیاط ملامتول، په یوه خبره زړه ماتول، په یوه پوکي (نَفَس) یوه ځان ته اور اچول او بیا د ورځنیو چارو په پای کې لاسونه وینځل.

له دود سره سم مینه کول، د خپل ځان تر ټولو غوره په له وړاندې ټاکلي سبک غبړول، خدایان په ښایېدونې توګه لمانځل، شیطان په هنرمنانه ډول غولول او بیا هر څه داسې له یاده ویستل چې ګواکي یاد مړ شوی دی.

د ټومب و انګېزې له مخې لېوالتیا، موخنه لیدا، په ښادۍ خوښي، پرتمینه ځورېدا او بیا پیاله نسکورونه،

په دې هيله چې سبا بېرته ډکه شي.

خدايه!

دا ټول ځيزونه له مخکني انده نطفه اخلي، په هوډ زېږي، په ځير روزل کېږي، په قانون نظام مومي، په عقل لاره ورښوول کېږي، بيا مري او د ټاکلي دود له مخې خاورو ته ستنېږي. او حتیٰ غلي او خاموشه کېڅونه (قبرونه) يې چې په انساني اروا کې پراته دي نښه او ځرگنده شمېره لري.

دا نړۍ، يوه بشپړه نړۍ ده. د بشپړتيا، کمال او هېښتياوو ستونځ (اوج) دی. د خدايي بڼ تر ټولو پخه مېوه او د هستۍ د اندنې (تفکر) شاهکار.

مگر خدايه!

ولې بايد زه دلته وم؟

زه د يوه نابشپړ شور و شهوت اوم زړی، يو لېونی توپان چې نه ختيځ ته الوځي او نه لويديځ ته، او د يوې سوزېدلې سيارې يوه سربداله ټوټه،

نو خدايه!

د ورکو ارواگانو خدايه!

د خدايانو ترمنځ ورکه خدايه!

ولې بايد زه دلته وم؟

# THE MADMAN

## HIS PARABLES AND POEMS

## Khalil Gibran

Translated by

Abdul Hamid Osmani Bahij

BAHIJ